**بسم الله الرحمن الرحیم**

## آیا ایمان کمېدای او ډېرېدای شي؟

له عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

**«بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ»** (رواه البخاری)

*__ژباړه:__ له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «اسلام پر پینځو بناوو ولاړ دی: ۱- شاهدي ورکول (اقرار کول) پر دې چې الله یو دی او له الله تعالی پرته، بل په حقه معبود نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی. ۲- لمونځ ادا کول. ۳- زکات ورکول. ۴- حج کول. ۵- د روژې د میاشتې روژه نیول.*

**د حدیث شرحه**

علماوو ویلي دي: «د اهل سنت د مذهب متقدمین او متأخرین په دې عقیده دي، چې ایمان عبارت دی له قول او عمل څخه چې ډېرېږي او کمېږي. د کمېدو او زیاتېدو دلیل یې په صحیح امام بخاري کې ذکر کړی دی او ویلي یې دي: څوک چې د ایمان د ډېرېدو غوښتنه نه کوي؛ نو له هغه چا یې ایمان کم دی، چې د ډېرېدو غوښتنه یې کوي.»

که و پوښتل شي؟ ایمان په لغت کې تصدیق کولو ته ویل کېږي؛ لکه څنګه چې الله سبحان وتعالی په یوسف سورت کې فرمایلي دي:

**﴿وَمَا أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لِّنَا وَلَوْ كُنَّا صَادِقِينَ﴾**

*__ژباړه:__ ته به زموږ په خبره باور ونه کړې، که موږ رښتیني هم واوسو (ځکه چې له یوسف سره ډېره مینه لرې او موږ د هغه بد غوښتونکي ګڼې، ته زموږ خبره د یوسف په هکله چې لېوه خوړلی، هیڅکله نه تصدیقوې.*

مهلب وايي: «په دې اړه ځواب دا دی: «که څه هم تصدیق په لغت کې ایمان ته ویل کېږي؛ خو تصدیق د ټولو عباداتو په واسطه تکمیلیږي؛ نو په هره کچه چې یو مسلمان نېک اعمال ډېر تر سره کړي د هغه د ایمان د کمال ښکارندویي کوي، په همدې اساس د نېکو اعمالو په ډېرېدو ایمان ډېرېږي او په کمېدو یې کمیږي.» په دې اړه د عمر بن عبدالعزیز په خبره کې غور وکړئ چې وايي: «ایمان درلودونکی فرایض، واحبات او سنت تر سره کوي او هر هغه چا چې دا تر سره کړل، په حقیقت کې یې خپل ایمان

کامل کړ او چا چې تر سره نه کړل، نو خپل ایمان یې پوره نه کړ. پر دې اساس هر کله چې نېک اعمال کم شي، د ایمان کمال له منځه ځي او کوم وخت چې نیک اعمال ډېر شي، د ایمان کمال هم ورسره ډېریږي. د ایمان په هکله متوازېنې (متعادل) خبرې همدا وې، خو تصدیق پر الله سبحان وتعالی او پر پیغمبرانو یې نه کمیږي.»

خو تصدیق په خپل ذات کې، دا چې شته او که نه، نو د تصدیق اساسي موضوع په ایمان کې ده، چې له واقعیت سره سم، قطعي یقین ته وایي. د تصدیق نیمګرتیا ته شک وایي، چې هغه ډېرېدای او کمېدای نه شي. هغه څه چې ډېریږي او کمیږي، د انسان له نفس سره اړیکه لري او همدارنګه له هغو اغېزو سره چې پکې رامنځته شوي وي. والله علم.

یا الله! موږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په طریقه له راشده خلافت څخه، چې د مسلمانانو یووالی پکې نغښتی وي، برخمن وګرځوه او له مسلمانانو څخه بدمرغۍ او مصیبتونه لرې کړه! یا الله دا ځمکه ستا په کرم او نور سره منوره کړه. اللهم آمین!